امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و نشرات

# هفته نامه مدیریت حوادث



۱ الی ۶ قوس ۱۴۰۴

## شماره یکصدو سی و دوم

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام (UNDP) له لوړپوړي پلاوي سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام د ناورینونو د مدیریت د څانګې له رئیسې، اغلې شُوکو نوډا، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام له رئیس، ستیفن روډریکز، د یاد سازمان د اقلیم د مقاومت د پروګرام له مرستیال، محترم نجیب الله یوسفي او د باثباته معیشتونو د پروګرام له مرستیال، محترم عبدالحمید عمر سره د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۴ نېټه په خپل کاري دفتر کې وکتل او د پېښو مدیریت اړوند پر موضوعاتو یې خبرې وکړې...

ادامه در صفحه۲

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ورلډویژن نړیوالې مؤسیسې ترمنځ د (۱,۲۷۱,۰۰۰) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک سوه.



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس الحاج ملا نورالدین ترابي د ورلډ ویژن نړیوالې مؤسسې له رئیس عبدالوهاب ارش سره د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۵ نېټه په خپل کاري دفتر کې...

ادامه در صفحه ۳

### د پېښو چارو د همغږۍ معین د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه او څارنه وکړه او د دې ولایت له والي سره یې وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د پېښو چارو د همغږۍ معین، محترم الحاج ملا عبدالولي څارنوال (حاجي وارث)، د یو تخنیکي، فني او مسلکي پلاوي په مشرۍ، د هېواد ولایتونو ته د رسمي سفر په دوام، د لغمان...

ادامه در صفحه۴

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د افغانستان لپاره د بشري او پراختیایي مرستو AHDAA مؤسسې ترمنځ د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د افغانستان لپاره د بشري او پراختیایي مرستو مؤسسې د رئیس، عبدالعزیز سروري سره د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱ نېټه په...

ادامه در صفحه ۵

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام (UNDP) له لوړپوړې پلاوي سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام د ناورینونو د مدیریت د څانګې له رئیسې، اغلې شُوکو نوډا، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام له رئیس، ستیفن روډریکز، د یاد سازمان د اقلیم د مقاومت د پروګرام له مرستیال، محترم نجیب الله یوسفي او د باثباته معیشتونو د پروګرام له مرستیال، محترم عبدالحمید عمر سره د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۴ نېټه په خپل کاري دفتر کې وکتل او د پېښو مدیریت اړوند پر موضوعاتو یې خبرې وکړې.

په پیل کې محترم ترابي صاحب د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام پلاوي ته ښه راغلاست وویل او د دواړو لورو ترمنځ یې د همکارۍ پر پیاوړتیا ټینګار وکړ، په دې ناسته کې د هیواد د طبیعي پېښو، اقلیمي بدلونونو او د خلکو د ژغورنې او وقایوي پروژو په برخه کې د روانو او راتلونکو پروژو په اړه هر اړخیزې خبرې وسوې.

ترابي صاحب د پېښو د خطرونو مخنیوي او د پېښو د اغېزو کمولو په برخه کې د وقایوي پروژو پر اهمیت خبرې وکړې او زیاته یې کړه چې د اقلیم بدلون له امله د هېواد د طبیعي خطرونو کچه لوړه سوې ده، هغه د بنسټیزو وقایوي پروژو د پلي کولو په اړه وویل چې وقایوي پروژې ډېرې مهمې دي ځکه په لږ مصرف د ډیر زیان مخه نیول کیږي.

همدا راز، ترابي صاحب وویل چې زموږ د ادارې انجنیري ټیمونو د افغانستان په کچه د پېښو له خطرونو سره مخ سیمې سروې، پېژندلې او تثبیت کړې دي او په ډیټابیس کې مو ثبت کړې دي او اړتیا ده چې باید هلته د پېښو د خطرونو د مخنیوي لپاره وقایوي پروژې پلي سي او د ډېرې پروژو ډیزاین ترتیب او د لګښت اټکل ترسره شوی دی.

ورپسې، د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام د ناورینونو د مدیریت د څانګې رئیسې، اغلې شُوکو نوډا د یادې ادارې د وروستیو هڅو ستاینه وکړه او ویې ویل چې د UNDP سازمان د افغانستان له خلکو سره د طبیعي پېښو د خطرونو د مخنیوي، چمتووالي، بیړني غبرګون او بیا رغونې په برخو کې د ملاتړ دوام ته ژمن دی. اغلې نوډا د اقلیمي بدلون د خطرونو د کمولو، د معیاري وقایوي زیربناوو د جوړولو او د سیمه ییزو ظرفیتونو د لوړولو لپاره د ګډو پروګرامونو پر پراخېدو ټینګار وکړ.

وروسته د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام رئیس، ښاغلي ستیفن رودریګز وویل، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې په کارونو کې چټکتیا روښانه ده او د دې ادارې له لوري یې د موسسو د کارونو په چټکۍ سره ترسره کولو په پار مننه او قدرداني وکړه، نوموړي وویل، چې هغه لړلیک چې تاسو موږ ته راکړی دی او د پروژو معلومات پکښې شتون لري، موږ هڅه کوو چې له هغه لړلیک څخه معلومات واخلو او د پروژو د پلي کولو په برخه کې به ترې ګټه واخلو.

په پای کې دواړو لوریو د همغږۍ او همکاریو پر دوام او پیاوړتیا او د پېښو د مدیریت لپاره د ظرفیتونو پر لوړولو ټینګار وکړ.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ورلډویژن نړیوالي مؤسیسې ترمنځ د (۱،۲۷۱،۰۰۰) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک سوه.



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس الحاج ملا نورالدین ترابي  د ورلډ ویژن نړیوالي مؤسسې له رئیس عبدالوهاب ارش سره د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۵ نېټه په خپل کاري دفتر کې وکتل او د (۱،۲۷۱،۰۰۰) یو میلیون او دوه سوه یو اویا زره ډالرو په ټولیز ارزښت یې د ګډو همکاریو تفاهم نامه ورسره لاسلیک کړه

ترابي صاحب په خپلو خبرو کې د ورلډ ویژن نړیوالي مؤسیسې له لوري د طبیعي پېښو د مدیریت، وقایوي پروژو، د خطرونو د کمولو عاجلو مرستو  په برخو کې همکاري د هېواد د زیانمنونکو خلکو لپاره مهمه لاسته راوړنه وبلل.

همدا راز ترابي صاحب ټینګار وکړ چې یاده  تفاهم چي لاسلیک سوه باید ژر تر ژره په اړوند ولایتونو کي پلي سي او اولسونو یې د ګټو څخه برخمن سي.

همدارنګه د ورلډ ویژن نړیوالي مؤسسې رئیس عبدالوهاب ارش د تفاهم نامې د اهمیت په اړه خبرې وکړې او وویل چې دوی د افغانستان له خلکو سره د اوږدمهاله ملاتړ هوډ لري، نوموړي زیاته کړه چې ورلډ ویژن به د وقایې، بیړنیو مرستو، د ټولني د پیاوړتیا او د خطر کمولو پروګرامونو له لارې د خلګو سره  همکاري کوي.

دیادوني وړه یاده تفاهم نامه چي لاسلیک سوه، له مخي به یې  دبادغیس ولایت په جوند ولسوالۍ او د فاریاب ولایت په خواجه سبز پوش ولي ولسوالۍ کي لاندي فعالیتونه ترسره کوي.

1. دکار په بدل کې د نغدي مرستي ویشل ۱۰۰۰ کورنیو ته ترسره کېږي، ۵۰۰ کورنیو ته د بادغیس ولایت  او ۵۰۰ کورنیو ته په فاریاب ولایت کې هره کورنۍ به په دوو پړاوونو کې په څلورو میاشتو کې ۲۲۰ ډالره ترلاسه کوي ۱۱۰ ډالر به هر پړاو کې د دې برخې فعالیتونه به د استنادي دیوالونو جوړول او ترمیم، د اوبو لګولو سیستمونو جوړول او نور ټولګټو کارونه ترسره کول  ټول ارزښت به په دواړو ولایتونو کې ۲۲۰۰۰۰ امریکایی ډالره وي.

2. ۳۰۰۰ کورنیو ته نغدي مرستي  ترسره کېږي چي ۱۵۰۰ کورنیو ته په بادغیس ولایت او ۱۵۰۰ کورنیو ته په فاریاب ولایت هره کورنۍ ته په درې پړاوونو کې د شپږو میاشتو په موده کې ۲۰۰ ډالره ورکول کیږي، ۸۰ ډالر په لومړي پړاو، ۸۰ ډالر په دویم پړاو، او ۴۰ ډالر په درېیم پړاو کې، د دې فعالیت ټول ارزښت په دواړو ولایتونو کې ۶۰۰،۰۰۰ امریکایی ډالره کېږي.

3. د عامه ګټو د پروژو لپاره د تجهیزاتو پېرود او برابرول به ترسره کېږي، چې د اوبو لګولو سیستمونو، استنادي دیوالونو، سربندونو او نورو ټولګټو پروژو لپاره اړین مواد او لوازم لکه بیل، کلنګ، بیلچه، ریسمان، لاس ګاډی، ریګ، سیمنټ، تیږه او داسې نورو وسایلو د ټاکل سویو کلیو لپاره برابر او پېرودل کېږي، د څلورو پروژو جوړولو  لپاره چي دوه پروژه یې په بادغیس ولایت او دوه پروژه یې په فاریاب ولایت  کي دي او اړینه بودجه ۸۰،۰۰۰  امریکایی ډالرو پورې اټکل سوې ده، او د توکو پېرودل به د خلکو د اړتیاوو او ددې ادارې د اړوند ولایتي ریاستونو د وړاندیزونو سره سم وي.

# د پېښو چارو د همغږۍ معین د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه او څارنه وکړه او د دې ولایت له والي سره یې وکتل




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د پېښو چارو د همغږۍ معین، محترم الحاج ملا عبدالولي څارنوال (حاجي وارث)، د یو تخنیکي، فني او مسلکي پلاوي په مشرۍ، د هېواد ولایتونو ته د رسمي سفر په دوام، د لغمان، نورستان، کونړ، ننګرهار، بامیان، غور، دایکندي، میدان وردګ، لوګر، پکتیا، پکتیکا، خوست، غزني، زابل، کندهار، ارزګان، هلمند، نیمروز، فراه، هرات او بادغیس ولایتونو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو د کاري بهیر له څارنې وروسته، د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱ نېټه فاریاب ولایت ته ورسېد.

په پیل کې، د پېښو چارو د همغږۍ محترم معین، د فاریاب ولایت له والي، محترم الحاج مولوی عبدالاحد فضلی، سره د دې ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم الحاج مولوی اسدالله وقاص په شتون کې وکتل.

دا ناسته د قرآن عظیم الشان د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.

د پېښو چارو د همغږۍ محترم معین د نورو ولایتونو د سفرونو یادونه وکړه او د سفر موخه یې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو د عمومي وضعیت څېړل، د اسلامي امارت د عالي مقام مشرتابه د فرمانونو او لارښوونو د پلي کېدو څارنه، د مالي او اداري چارو ارزونه، د هوکړه لیکونو د پلي کېدو څارنه، د وقایوي پروژو، د بشردوستانه مرستو د وېش، د ماین پاکۍ او د نشراتي چارو څېړنه او د ستونزو او وړاندیزونو اورېدل یاده کړه.

هغه ټینګار وکړ چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداره ژمنه ده، چې د خپلو قانوني صلاحیتونو او د دندو په چوکاټ کې به د وقایوي پروژو د پلي کېدو، د زیانمنو ښېرنیو اړتیاوو د پوره کولو او د طبیعي پېښو او خطرونو د مدیریت د ښه والي په برخه کې هر اړخیزه همکاري وکړي.

وروسته محترم والي صاحب، د ښه راغلاست ویلو او زیانمنو ته د رسېدنې په برخه کې د یادې ادارې له هڅو څخه د قدرداني ترڅنګ د دې ولایت زیانمنتیا ته په اشارې سره وویل چې د بادغیس خلک د طبیعي پېښو له امله په لوړه کچه زیانمن دي او بشردوستانه مرستو او وقایوي پروژو ته اړتیا لري.

په پای کې، محترم فضلی صاحب له دې بهیر څخه د خوښي په څرګندولو سره زیاته کړه، چې د دویمو واحدونو له چارو څخه څارنه او څېړنه د حکومتولۍ یو مهم اصل دی او د هر ډول همکارۍ ژمنه یې وکړه.

ورپسې، یاد پلاوي د فاریاب ولایت له پېښوسره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه وکړه او د یاد ریاست کاري بهیر یې له نږدې وڅاره. په دې لیدنه کې، د پېښو چارو د همغږۍ معین له کارکوونکو سره خبرې وکړې د هغوی ستونزې او وړاندیزونه یې واورېدل او د اسنادونو او فعالیتونو تر ارزونې وروسته یې هغوی ګړندي، پر وخت او اغېزمنو خدمتونو ته وهڅول.

د یادونې وړ ده، چې یاد پلاوي په دې ریاست کې خپل څارنیز او لارښوونکی بهیر پیل کړ.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د افغانستان لپاره د بشري او پراختیایي مرستو AHDAA مؤسسې ترمنځ د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د افغانستان لپاره د بشري او پراختیایي مرستو مؤسسې د رئیس، عبدالعزیز سروري سره د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱ نېټه په خپل کاري دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم نامه یې ورسره لاسلیک کړه.
په پیل کې، ترابي ترابي صاحب راغلي پلاوي ته ښه راغلاست وویل، او زیاته یې کړه، چې خپله پروژه دې د یخنۍ له ډېرېدو مخکې په شفاف او چټک ډول سره ترسره کړي.
ورپسې، د یادې مؤسسې راغلي پلاوي د خپلې تطبیقېدونکې پروژې د ډول او ځای په اړه معلومات وړاندې کړل او زیاته یې کړه، چې موږ له وړاندې په اړونده سیمه کې سروې کړې ده ترڅو خپله پروژه پکې تطبیق کړو.
د یادونې وړ ده، چې په پای کې، د دواړو لوریو ترمنځ ټولټال د درې څلویښت زره او نه سوه (۴۳،۹۰۰) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه، چې له مخې به یې د هرات ولایت په چشت شریف ولسوالۍ کې د ۹۸۲۰ مترو په اوږدوالي سره د پلاستیکي پایپونو په واسطه یوه د اوبو رسولو پروژه چې له امله به یې ۱۰۰ کورنیو ته د اوبو لاسرسی برابر شي ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې ۴۰ ټنه خوراکي توکي چې په مسکو کې د مېشت د افغان سوداګر له لوري مرسته شوي وو ترلاسه کړل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، الحاج ملا نورالدین ترابي، د یوې خبري ناستې پر مهال د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۲ نېټه هغه مرستې ترلاسه کړې چې په مسکو کې د مېشت افغان سوداګر له لوري د ژمي لپاره ترسره شوې وې.
په دې مراسمو کې، ښاغلي ترابي صاحب، په مسکو کې د افغان بزنس سنټر د رئیس، حاجي نادرشاه، د دې مرستې څخه مننه وکړه او ویې ویل چې په دې مرستو کې ۲۵ ټنه اوړه، ۱۰ ټنه وریجې او ۵ ټنه غوړي شامل دي چې ټولټال ۴۰ ټنه خوراکي توکي کېږي.
همدارنګه د ادارې لوی رئیس زیاته کړه چې حاجي نادرشاه تل له دې ادارې سره بې له کومې تمې او توقع همکاري کړې ده او دا ځل یې هم په سخاوتمندۍ سره دغه مرستې د ژمي د احتمالي زیانمنو د ملاتړ لپاره ورکړې دي. هغه وویل چې دغه مرستې به له په منظم ډول ، په شفاف او عادلانه ډول مستحقو کورنیو ته ووېشل شي تر څو د هغوی لومړنۍ اړتیاوې پوره شي.
ښاغلي ترابي صاحب په پای کې له نورو سوداګرو، مرستندویه بنسټونو او خیرو کسانو هم وغوښتل چې په دې شرایطو کې د حاجي نادرشاه په څېر د بې وزله هیوا والو سره مرستې وکړي.



# د پېښو چارو د همغږۍ معین د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه او څارنه وکړه او د ولایت مقام له مرستیال سره یې وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د پېښو چارو د همغږۍ معین، محترم الحاج ملا عبدالولي څارنوال (حاجي وارث)، د یو تخنیکي، فني او مسلکي پلاوي په مشرۍ، د هېواد ولایتونو ته د رسمي سفر په دوام، د لغمان، نورستان، کونړ، ننګرهار، بامیان، غور، دایکندي، میدان وردګ، لوګر، پکتیا، پکتیکا، خوست، غزني، زابل، کندهار، ارزګان، هلمند، نیمروز، فراه، هرات، بادغیس، او فاریاب ولایتونو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو د کاري بهیر له څارنې وروسته، د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۳ نېټه سرپل ولایت ته ورسېد.

په پیل کې، د پېښو چارو د همغږۍ محترم معین، د سرپل ولایت د مقام له مرستیال، محترم الحاج ملا خال محمد حقاني سره د دې ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم حافظ سید صفت الله صفوان په شتون کې وکتل.

دا ناسته د قرآن عظیم الشان د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.

د پېښو چارو د همغږۍ محترم معین د نورو ولایتونو د سفرونو یادونه وکړه او د سفر موخه یې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو د عمومي وضعیت څېړل، د اسلامي امارت د عالي مقام مشرتابه د فرمانونو او لارښوونو د پلي کېدو څارنه، د مالي او اداري چارو ارزونه، د هوکړې لیکونو د پلي کېدو څارنه، د وقایوي پروژو، د بشردوستانه مرستو د وېش، د ماین پاکۍ او د نشراتي چارو څېړنه او د ستونزو او وړاندیزونو اورېدل یاده کړه.

هغه ټینګار وکړ چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداره ژمنه ده، چې د خپلو قانوني صلاحیتونو او د دندو په چوکاټ کې به د وقایوي پروژو د پلي کېدو، د زیانمنو بېړنیو اړتیاوو د پوره کولو او د طبیعي پېښو او خطرونو د مدیریت د ښه والي په برخه کې هر اړخیزه همکاري وکړي.

وروسته محترم مرستیال صاحب، د ښه راغلاست ویلو او زیانمنو ته د رسېدنې په برخه کې د یادې ادارې له هڅو څخه د قدردانی ترڅنګ د دې ولایت زیانمنتیا ته په اشارې سره وویل چې د سرپل خلک د طبیعي پېښو له امله په لوړه کچه زیانمن دي او بشردوستانه مرستو او وقایوي پروژو ته اړتیا لري.

په پای کې، محترم حقاني صاحب له دې بهیر څخه د خوښۍ په څرګندولو سره زیاته کړه، چې د دویمو واحدونو له چارو څخه څارنه او څېړنه د حکومتولۍ یو مهم اصل دی او د هر ډول همکارۍ ژمنه یې وکړه.

وروسته، یاد پلاوي د سرپل ولایت له پېښوسره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه وکړه او د یاد ریاست کاري بهیر یې له نږدې وڅاره. په دې لیدنه کې، د پېښو چارو د همغږۍ معین له کارکوونکو سره خبرې وکړې د هغوی ستونزې او وړاندیزونه یې واورېدل او د اسنادونو او فعالیتونو تر ارزونې وروسته یې هغوی ګړندي، پر وخت او اغېزمنو خدمتونو ته وهڅول.

د یادونې وړ ده، چې یاد پلاوي په دې ریاست کې خپل څارنیز او لارښوونکی بهیر پیل کړ.

## له پېښو سره د مبارزې ملي ادارې امادګۍ (۲۵) تنه کارکونکو ته د اغاخان پراختیایي شبکې لخوا دري ورځنۍ ورکشاپ ورکړل سو



د کابل استار هوټل د غونډو په تالار کې ددې ادارې او اطفایې ریاست کارکونکو ته د اغاخان پراختیایي شبکې لخوا د ښاري لټون او ژغورنې او پرمختللیو لومړنیو مرستو تر عنوان لاندې (۳) ورځنۍ ورکشاپ د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۳ نېټه پای ته ورسیدی.

د غونډې په پیل کې ددې ادارې د کارکونکو چارو رئیس محمد عابد نعماني وویل چې دا یو مهم ورکشاپ دی او پر ټولو لازمه ده چې تر نورو کارکونکو یې ورسوي او د پېښې په وخت کې د خلګو سره پوره همکاري وکړي.

په دې ورکشاپ کې ګډونوالو د دریو ورځو په لړ کې د ښاري لټون او ژغورنې او پرمختللیو لومړنیو مرستو په برخه کې زیانمنو ته پر وخت د رسېدنې، د پېښې په ځای کې د خطر د ارزونې، د قربانیانو د لټون او د ژغورنې د عملیاتو او زیانمنو ته د لومړنیو روغتیایي مرستو عملیات په عملي ډول ترسره کړل.

ورسته د یاد ورکشاپ ټولو ګډنوالو د اغاخان پراختیایي شبکې د مسلکي استادانو لخوا عملي او نظري درسونه له وړاندې کولو څخه مننه وکړه او ټولو کارکونکو ژمنه وکړه چې ټول زده سوې عملي او نظري درسونه په ښه ډول تر نورو ورسوي.

د یاد ورکشاپ استاد ښاغلي مراد پیار علي وویل چې یاد ورکشاپ ډېر مهم دی او ټول کارکونکي باید تر لاسه سوې معلومات او عملي او نظري درسونه د نورو کارکونکو سره شریک کړي.

د دیاوني وړ ده چې په دې ورکشاپ کې د اطفایې ریاست کارکونکو هم ګډون درلود.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې اوونیزه اداري غونډه ترسره شوه

د وزیرانو شورا د ۱۴۴۳/۵/۱۶نېټې د (۱۵) ګڼې مصوبې د ۱ مادې پر بنسټ، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې اوونیزه اداري غونډه د دې ادارې د سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي په مشرۍ او د مرکزي رئیسانو په ګډون د دې ادارې په انګړ کې د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۵ نېټه ترسره شوه.

غونډه د قران کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.

ورروسته د اجنډا په هره موضوع په جلا جلا ډول هر اړخیزه بحث وشو او د غونډې د ګډونوالو نظرونه په وار سره راټول شول.

د غونډې په پای کې داجنډا پر ټولو موضاعوتو باندی لازم تصمیمونه ونیول سول.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د (AWSDC) مؤسسې تر منځ د (۷۵،۰۰۰) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک سوه



له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د AWSDC مؤسسې د مرستیال او کفیل محمد صادق عیار او د پرو ګرام د مسؤل فردوس ابراهیمي سره د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۵ نېټه په خپل کاري دفتر کي وکتل او د (۷۵،۰۰۰) پنځه اویا زره ډالرو په ټولیز ارزښت یې د ګډو همکاریو تفاهم نامه ورسره لاسلیک کړه.

محترم ترابي صاحب له هرڅه مخکي د یادي مؤسسې راغلي پلاوي ته ښه راغلاست ووایه او زیاته یې کړه چي اوس د ژمي موسم دی تر بل هر وخت خلګ مرستو ته زیاته اړتیا لري او مؤسیسات باید ژمنۍ مرستي پر خپل وخت وویشي.

همدارزار ښاغلی ترابي صاحب د دیادي  مؤسیسې د فعالیت او مرستي څخه ځانګړي مننه وکړه چي د ژمي په موسم کي د زیانمنو کورنیو سره بیلابیلي مرسته کوي او د مرستو پر ژر رسیدنه یې یو ځل بیا ټینګار وکړ.

د یادي مؤسیسې مرستیال محمد صادق عیار وویل چي یاده مؤسیسه افغان اولسونو ته ته خدمتونه کوي او موږ  هڅه کوو چي مرستي ژر تر ژره زیانمنو کورنیو ته ورسوو.

دیادوني وړ ده یاده تفاهم نامه چي لاسلیک سوه له مخي به یې د فاریاب ولایت په پشتون کوټ ولسوالۍ کي لاندي خدمتونه ترسره کوي.

۱ــ د ټولنې پوهاوی لوړول:  د لومړني خبر ورکوني سیستم (EWS) له لاري د ټولني د مشرانو، په ځانګړي ډول د خطر او د پیښو د مدیریت کمیټو (CBDRRM) غړو ته به د لومړني خبر ورکوني سیستم (EWS) په اړه اړین پوهاوی ورکول کیږي.

۲ــ دري ورځنۍ ترینینګ او د خطراتو د کموالي د کمیټو د غړو لپاره اړیني بستې آماده کول او د ترینینګونو ګډونوالو لپاره ریفرشمنټ چې مجموعي بودجه یې ۲۸۵۰ ډالر کیږي،

 پنځه ورځنۍ د عامه پوهاوی برنامه د (EWS: Early Warning System) په اړه د ۴ کمیټو یا ۶۰ کسانو لپاره او ګډونوالو لپاره ریفرشمنټ، بنر و نور اړین بروشرونو برابرول ۳۳۵۰ ډالرو یې بودجه ده.

۳ــ د وچکالۍ او سیلاب له امله زیانمن سویو خلکو لپاره د خوراکي موادو بسته ګانو وېش د غیرنغدي مرستو په شکل د خوراکي بسته ګانو، لاندې توکي ویشل :  ۳۷۰ کورنیو لپاره د یوې میاشتې خوراکي بسته ګانې چې په دې توکو مشتمل دي ۱۰۰ کیلوګرامه غنم اوړه ، ۵ لیتر نباتي غوړي ، ۹ کیلوګرامه دال ، ۲۴.۵ کیلوګرامه وریجې او ۱ کیلوګرام آیودین لرونکې مالګه د ۱۰۰ ډالر په ارزښت، د یوې کورنۍ لپاره چې د ۷ څخه تر ۸ کسانو څخه جوړه سوې وي او همدارنګه  ۲۲۰۰ ډالر د موادو ترانسپورت او بنر چاپ اټکل سوې ده.

۴ــ د ژمي لپاره د نغدي مرستو وېش: ۷۱ کورنیو ته د یو  ځل لپاره ۱۰۰ امریکایي ډالر نقدي مرسته د ژمي د بستي په توګه ورمول کیږي.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د کندهار د کډوالو مؤسسې ترمنځ د (۱۹۰,۱۰۶) ډالرو په ټولیز ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د کندهار د کډوالو مؤسسې د پروګرامونو له مدیر بشیر احمد خالد سره د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۵ نېټه وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه یې د یو سل او نوي زره او یو سل او شپږ (۱۹۰,۱۰۶) ډالرو په ټولیز ارزښت ورسره لاسلیک کړه.

محترم ترابي صاحب په دې ناسته کې وویل، چې زموږ هڅه دا ده چې زیانمنو خلکو ته د مرستو وړاندې کولو تر څنګ، د وقایوي پروژو پلي کولو ته پاملرنه زیاته کړو. له همدې امله، موږ مؤسسې او مرستندویه بنسټونه هڅوو چې په دې برخو کې خپلې هڅې پراخې کړي.

په همدې حال کې، د یادې موسسې د پروګرامونو مدیر بشیر احمد خالد د پروژې په اړه معلومات وړاندې کړل او ویې ویل چې په لوګر، کندهار او زابل ولایتونو کې د عامه پوهاوي پروګرامونه ترسره شوي، او په ځینو سیمو کې به د سیلاب د مخکنۍ خبرتیا سیستمونه نصب شي، څو د سیلاب د احتمالي پیښو پر مهال خلک لازم چمتووالی ولري. نوموړي ژمنه وکړه چې پروژه به په شفاف ډول او پر وخت پلي کړي.

د یادونې وړ ده، چې د دې تفاهم‌نامې له مخې، په لوګر، کندهار او زابل ولایتونو کې لاندې فعالیتونه ترسره کېږي:

1. د GIS یو سیټ برابرول او په یادو ولایتونو کې د زیانمنو سیمو سروې او پېژندنه.
2. د کندهار او زابل ولایتونو په ۶ سیمو کې د مخکنۍ خبرتیا سیستم نصبول، او ۳۰۰ کسانو ته د سیمولیشن تمرینونه او عامه پوهاوی ورکول.
3. د سیستمونو لپاره د پرزو برابرول او د دریبو راتلونکو کلونو لپاره اړوندو کمیټو ته سپارل.
4. په لوګر، کندهار او زابل ولایتونو کې د ۵۰۰ کسانو لپاره د طبیعي پېښو د خطرونو په اړه د ۶ ورځني روزنیز پروګرام ترسره کول.
5. په یادو ولایتونو کې د طبیعي پېښو د خطرونو د مخنیوي لپاره د سیمه‌ییزو کمیټو جوړول.
6. د ۱۰۰۰ کسانو لپاره د طبیعي پېښو د خطرونو د کمولو په اړه د عامي پوهاوي کمپاین ترسره کول.


## د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱,۲۰۷ مستحقو کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ماهو موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، چې د پروژې تمویلوونکی یې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) دی، د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۶ نېټه د دې ولایت د مرکز او الجهاد ولسوالۍ اړوند ۱,۲۰۷ مستحقو کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۲,۹۰۰ افغانۍ نغدې پیسې ووېشل شوې، چې ټولټال درې میلیونه او پنځه سوه زره او درې سوه (۳,۵۰۰,۳۰۰) افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## له پېښو سره د مبارزې  آمادګۍ ملي ادارې د لوی رئیس په ځانګړې هدایت، د کابل ولایت اړوند د نادرخان په تپه کې د ۵۰۰ مترو په اوږدوالي کټاره ولګول سوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس الحاج ملا نورالدین ترابي او د یادي ادارې د دعوت ارشاد د رئیس مولوي عبدالخالق له لوري د ظاهر شاه پر مقبره  د ۵۰۰ مترو په اوږدوالي د جوړیدونکي کټارې کارونه بشپړ کړل.

محترم ترابي صاحب وویل چې یاده پروژه د دې لپاره عملي سوه چې د سیمې ماشومانو او نورو اوسېدونکو ته د موجودو ژورو ځایونو او خطرناکو ساحو له امله د احتمالي مرګونو مخه ونیول سي،  ځکه چې هغه وویل چې دلته په څو کلونو کې شاوخوا ۱۳ کسانو خپل ژوند دلاسه ورکړی دی او موږ غوره وبلل چې دلته کټاره ولګوو. ولی چې موږ  د خطرونو کمولو دنده پر غاړه لرو هغه که مالی وی که جانی وی بل داچی د الله ج قول دی: مَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا.

همد راز ترابي صاحب د سیمې اوسېدونکو ته د سپارښتنې په ډول وویل چې دا کټاره ستاسو د خوندیتوب لپاره لګول سوې ده، نو ساتنه یې پر تاسو لازمه ده تاسو باید د سیمې په کچه د دې پر ساتنه، مراقبت او د هر ډول احتمالي تخریب د مخنیوي لپاره ګډ مسوولیت ترسره کړئ.

همدارنګه، نوموړي زیاته کړه چې د ادارې له لوري د کابل ولایت په نورو سیمو کې هم ورته وقایوي کارونه ترسره کېږي، تر څو د خلکو د ژوند ژغورنې خدمتونه لا پیاوړي سي.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د هستوګنې لپاره د آغاخان بنسټ د جغرافیوي معلوماتو سیستم (GIS) دوه ورځنی ورکشاپ د دې ادارې او د شپږ سکتوري وزارتونو د کارکوونکو لپاره ترسره کړ



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د هستوګنې لپاره د آغاخان بنسټ، د جغرافیوي معلوماتو سیستم (GIS) دوه ورځنی سمینار د دې ادارې او د شپږو نورو سکتوري وزارتونو د کارکوونکو لپاره د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۶ نېټه په کابل ستار هوټل کې ترسره کړ.

په دې سمینار کې چې د هستوګنې لپاره د آغاخان بنسټ په تخنیکي او مالي همکارۍ ترسره شوی و، د دې ادارې لس تنه کارکوونکو، د یاد بنسټ پنځه تنو او د ښار جوړونې، د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ، د انرژۍ او اوبو، د ترانسپورت او ملکي چلند، د کانونو او پټرولیم وزارتونو او د چاپېریال ساتنې ملي ادارې له هرې ادارې څخه دوه کسانو ګډون کړی وو.

په دې دوه ورځنې سمینار کې ګډونوال د GIS له بنسټیزو مفاهیمو، د پېښو په مدیریت کې د هغه کارولو، د نقشو تحلیل، د ساحوي معلوماتو د راټولولو طریقې او د دقیقو او علمي پرېکړو لپاره د عصري وسایلو له کارولو سره آشنا شول.

یاد سمینار نن پنجشنبه د اطلاعاتو او نشراتو د رئیس، محترم حافظ محمد یوسف حماد, د بهرنیو اړیکو آمر, محترم برهان‌الدین شینواري د یاد بنسټ حقوقي سلاکار, محترم عصمت الله عصمتي او نورو مسؤلینو له لوري ګډونوالو ته د تصدیق‌پاڼو په ورکولو سره پای ته ورسېد.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان برای ۳۱۵ خانواده مستحق کمک نقدی توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه امضاء شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و موسسه آقاخان برای اسکان، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان با حمایت مالی موسسه متذکره، بتاریخ ۱ جمادی الآخر سال ۱۴۴۷ هـ ق دور دوم کمک‌های نقدی را برای ۳۱۵ خانواده مستحق در ولسوالی یکاولنگ۲، توزیع نمود. در این پروسه با حضور مسئولین، به هر خانواده مبلغ ۴۳۵۰ افغانی توزیع گردید که در مجموع مبلغ یک‌میلیون‌و سه صدو هفتاد هزارو دوصدو پنجاه(۱,۳۷۰,۲۵۰) افغانی برای این‌تعداد خانواده‌ها اختصاص یافته بود.


## په ارزګان ولایت په کې له تېرو جګړو څخه پاتې شوي چاودېدونکی توکی کشف او امنیتي چارواکو ته وشپارل شول

د ارزګان ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د DAPA ماین پاکۍ مؤسسې د تخنیکي ټیم په ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱ نېټه د دې ولایت په مرکز کې له تېرو جګړو څخه پاتې شوي یو بکس چاودېدونکي توکي د یوه کور مخ ته د سړوې پر مهال کشف او وروسته له دې چې د استفادې وړ وپېژندل شول امنیتي چارواکو ته وسپارل شول.
د دې عملیاتو په پایله کې، له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست مسؤلینو سیمه ییزو اوسېدونکو ته د عامه پوهاوي ورکولو ترڅنګ وویل، چې د هر ډول مشکوک او چاودېدونکي توکي د لیدلو په صورت کې دې له اړوندو مسؤلینو سره اړیکه ونیسي ترڅو یې په وخت سره یاد وګړي له احتمالي خطرونو څخه وژغورل شي.



## په فراه ولایت کې یو شمېر چاودېدونکي توکي کشف او خنثی شول

د فراه ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د DRC ماین پاکۍ مؤسسې د تخنیکي ټیم په ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱ نېټه د دې ولایت په بېلابېلو سیمو کې یو شمېر چاودېدونکي توکي چې یو فیر د هوا دافع ۲۷ میلي مترۍ مرمۍ، ۳ کړۍ خوشه یې بمبونو، یو فیر40 VOG-25 میلي مترۍ مرمۍ، یو فیر73 PG9 میلي مترۍ مرمۍ او یو فیر 40 OG7 میلي مترۍ مرمۍ شتون درلود کشف او په خوندي توګه له منځه یوړل.
د فراه ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس سیمه ییزو اوسېدونکو ته د عامه پوهاوي د ورکولو ترڅنګ وویل، چې د هر ډول مشکوک او چاودېدونکي توکي د لیدلو په صورت کې دې له اړوندو مسؤلینو سره اړیکه ونیسي ترڅو یې د له منځه تلو لپاره اړین تدابیر ونیول شي او سیمه ییز اوسېدونکي یې له بدو پایلو څخه خوندي شي.



## د بادغيس ولايت په بالامرغاب ولسوالۍ يو شمېر چاودېدونکي توکي کشف او له منځه يوړل شول



د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د DRC ماین پاکۍ مؤسسې د تخنیکي ټیم په ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱ نېټه د دې ولایت په بالامرغاب ولسوالۍ کې ۵۶ کړۍ چاودېدونکي توکي چې زیاته برخه یې AO-2.5 RT ډوله ماینونه وو په خوندي توګه خنثی کړل.
د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس د ماینونو او چاودېدونکو توکو د قربانیانو له کورنیو سره د غمشریکي کولو ترڅنګ وویل، چې د هر ډول مشکوک او چاودېدونکي توکي د لیدلو په صورت کې دې له اړوندو مسؤلینو سره اړیکه ونیسي ترڅو یې په اړه پر وخت اړین تدابیر ونیول شي.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان برای ۴۲۸۵ خانواده مستحق کمک‌های غذایی توزیع کرد

بر اساس تفاهم‌نامه که میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه (ASIO) به امضا رسیده است و تمویل‌کننده پروژه آن برنامه جهانی غذا (WFP) می‌باشد، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان با همکاری این مؤسسه، پس از سروی، بتاریخ ۱ جمادی الآخر سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۴۲۸۵ خانواده مستحق در ولسوالی نهرین آن ولایت کمک‌های غذایی توزیع کرد.
در این روند، برای هر خانواده در حضور مسئولان دو بوری ۲۵ کیلویی آرد، ۵ لیتر روغن، ۶.۲۵۰ کیلو دال، نیم کیلو نمک، ۳ کیلوگرام سوپر سیرل و یک و نیم کیلو پلمپی توزیع شد.



## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۲۶ مستحقو کورنیو ته د غیر خوراکي توکو مرستې وویشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د OCHR مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په مالي ملاتړ، د دې ولایت د مرکز مهترلام بابا ښار په بېلابېلو کلیو کې ۱۲۶ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱ نېټه د غیر خوراکي توکو مرستې وویشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۲۱ کلچې صابون، ۵۴ کوچنۍ څمڅې او نور د اړتیا وړ توکي وویشل شول.
د یادونې وړ ده، چې د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د OCHR مؤسسې بشردوستانه هڅې وستایلې او اړوندو کورنیو ته یې د لا ډېرو همکاریو د کولو ډاډ ورکړ.

## د جوزجان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۲۲ اړمنو کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ماشومانو د ملاتړ نړیوالې موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د جوزجان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالي ملاتړ، د دې ولایت د خواجه دو کوه ولسوالۍ او مرکز اړوند ۳۲۲ اړمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۲ نېټه نغدې مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۲۶,۲۶۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال اته میلیونه او څلور سوه پنځه پنځوس زره او اووه سوه شل (۸,۴۵۵,۷۲۰) افغانۍ نغدې پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان با قربانیان حادثه روز گذشته در شاهراه کابل-جلال آباد کمک نقدی، خوراکی و غیرخوراکی انجام داد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان در ولسوالی قرغه‌ئی به آسیب‌دیدگان روز گذشته ناشی از حادثه لغزش کوه در شاهراه کابل - جلال‌آباد بتاریخ ۱ جمادی الآخر سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های نقدی، مواد خوراکی و غیرخوراکی توزیع کرد.
محترم قاری خیرمحمد غازی، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان، به‌منظور دلجویی از خانواده یک تن شهید، به منزل آنان رفته و به خانواده شهید مبلغ بیست‌هزار(۲۰,۰۰۰) افغانی و به خانواده فرد زخمی مبلغ ده‌هزار(۱۰,۰۰۰) افغانی کمک نقدی نمود. همچنان برای هر خانواده ۵۰ کیلو آرد، ۲۵ کیلو برنج، ۱۰ لیتر روغن، یک سیر بوره و یک بسته البسه نیز از سوی یونیسف توزیع گردید.
خانواده‌های مستفیدشده از ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان قدردانی کرده و این ریاست را برای رساندن کمک‌های فوری به قربانیان حادثه مورد ستایش قرار دادند.

## د پنجشېر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ۵ شهیدانو ورثه ته نغدي مرستې ووېشلې



د پنجشیر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دې ولایت په رخه، آبشار، خصه اول ولسوالیو او مرکز بازارک کې د طبیعي پېښو له امله د ۵ شهیدانو ورثه ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۲ نېټه نغدي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۲۰،۰۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره سل زره (۱۰۰،۰۰۰) افغانۍ ځانګړې شوې وې.

## د لغمان ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۲۴ مستحقو کورنیو ته د غیر خوراکي توکو مرستې وویشلې




له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د OCHR مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د لغمان ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په مالي ملاتړ، د دې ولایت د علینګار ولسوالۍ په بېلابېلو کلیو کې ۱۲۴ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۲ نېټه د غیر خوراکي توکو مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۲۲ کلچې صابون، ۴۴ کوچنۍ څمڅې او نور د اړتیا وړ توکي وویشل شول.

د یادونې وړ ده، چې د لغمان ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د OCHR مؤسسې بشردوستانه هڅې وستایلې او اړوندو کورنیو ته یې د لا ډېرو همکاریو د کولو ډاډ ورکړ.


## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان برای ۵۱۸ خانواده متضرر مساعدت خوراکی توزیع کرد




بر اساس تفاهم‌نامه اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با موسسه ASIO، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان، بتاریخ ۳ جمادی الآخر سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۵۱۸ خانواده متاثر از خشک‌سالی در ولسوالی فیروز نخچیر مساعدت غذایی توزیع کرد.

در این روند تحت نظر محترم الحاج مولوی احسان الله احسان، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث و مسوولان محلی، برای هر خانواده ۵۰ کیلو آرد، ۴.۵۵ کیلو روغن، ۶.۲۵ کیلو دال‌نخود، نیم‌کیلو نمک و ۱.۵ کیلو پلمپی توزیع شد.

## کار ساخت یک دیوار استنادی در بازارک ولایت پنجشیر تکمیل و به بهره‌برداری سپرده شد




مبنی بر شفقت عالی‌قدر امیر المومنین حفظه الله تعالی که برای تمام ولایایت یک یک پروژه وقاوی به ارزش یک میلیون افغانی منظور کرده بود و بر اساس هدایت محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی ادارۀ ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با رویدادهای ولایت پنجشیر پروژۀ ساخت دیوار استنادی در بازارک مرکز آن ولایت، را با هزینه‌ای بالغ بر شش صد و بیست و دو هزار و دوصد و هشتاد و پنج(۶۳۲،۲۸۵) افغانی بتاریخ ۲ جمادی الآخر سال ۱۴۴۷ هـ ق تکمیل و به بهره‌برداری سپرد.

این دیوار استنادی که به طول ۳۰ متر، ارتفاع ۴.۵ متر و در بخش پایین ۲ متر و در بخش بالایی ۶۰ سانتی‌متر عرض دارد، توسط یک شرکت ساختمانی به پایان رسید.

قابل ذکر است که با ساخت این دیوار استنادی، خطرات ناشی از افزایش سطح آب در دریای پنجشیر و احتمال آسیب به مناطق مسکونی کاهش خواهد یافت و ساکنان منطقه از آسیب‌های احتمالی در امان خواهند ماند.

## د جوزجان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۱۵ مستحقو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د SFL مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، چې د پروژې تمویل کوونکی یې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) دی، د جوزجان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په ملاتړ، د دې ولایت په خواجه دوکوه ولسوالۍ کې ۵۱۵ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۲ نېټه د خوراکي توکو مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ د رئیس، محترم مولوي سراج الدین سراج او د سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې ۵۰ کیلو اوړه، ۶.۲۵ کیلو دال، ۵ لیټره غوړي، نیم کیلو مالګه، ۳۰ عدده پلمپي او هغو کورنیو ته چې په هغه کې ماشومانو، شیدې ورکوونکو او حامله میندو شتون درلود ۳ کیلو سوپر سیریل هم ووېشل شول.

## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۹۴ زیانمنو کورنیو ته غیر خوراکي مرستې ووېشلې



د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دې ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې ۹۴ زیانمنو شویو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۳ نېټه غیر خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، د یونسیف دفتر له امکاناتو څخه، یوه د پخلنځي بسته، یوه د ژمنۍ البسې بسته، یوه تخته پلاستیکي فرش، یوه تخته ترپال او یوه جارو ووېشل شوه.

ترلاسه کوونکو کورنیو د دې مرستو د ترلاسه کولو له امله خوښي څرګنده کړه او د لغمان ولاست له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ستاینه یې وکړه.

## د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۶۰ مستحقو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادرې د لوی رئیس، محترم الحاج ملانورالدین ترابي صاحب د لارښوونې له مخې، د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دې ولایت د مرکز په بېلابېلو ناحیو او کلیو کې ۲۶۰ مستحقو کرنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۳ نېټه د خوراکي توکو مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۱۰ کیلو د غویي غوښه ووېشل شوه.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث لغمان ساحات معروض به خطر لغزش کوه را در شاهراه کابل-جلال آباد لوحه گذاری کرد




بر اساس هدایت محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان بتاریخ ۴ جمادی الآخر سال ۱۴۴۷ هـ ق لوحه‌های هشدار خطر لغزش کوه را در ساحات معروض به خطر این حادثه در شاهراه کابل-جلال‌آباد نصب کرد.

محترم قاری خیر محمد غازی، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث آن ولایت با یک تیم تخنیکی، در ساحات درونته ولسوالی قرغیی لوحه‌های آگاهی‌دهنده را در نقاطی جابجا نمودند که با خطر جدی فرسایش و لغزش کوه مواجه‌اند.

نصب این لوحه‌ها مسافران را از موقعیت دقیق منطقه خطرناک آگاه می‌سازد و آنان را از منع توقف در این ساحات هشدار می دهد و این اقدام می‌تواند نقش مهمی در جلوگیری از تلفات احتمالی داشته باشد.

## د نورستان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۷۶ مستحقو کورنیو ته د حفظ الصحې کېټونه ووېشل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د OCHR موسسې تر منځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د نورستان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالي ملاتړ، د دې ولایت په نورګرام ولسوالۍ کې ۲۷۶ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۴ نېټه د حفظ الصحې کېټونه ووېشل شول.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې ۱۰ کلچې صابون، د اوبو تصفیه کولو مواد او یو عدد کفګیر ووېشل شو.

## د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۳ زلزله ځپلو کورنیو ته خیمې ووېشلې




د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) په ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۴ نېټه د مزار شریف ښار په بېلابېلو نایحو کې د ۲۳ زلزله ځپلو کورنیو ته غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته چې کور یې په بشپړ ډول ویجاړ شوی و یو باب خیمه ووېشل شوه.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان برای ۳۱۵ خانواده مستحق کمک نقدی توزیع کرد



براساس تفاهم‌نامهٔ امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسهٔ آغاخان برای اسکان (AKAH)، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان با حمایت این مؤسسه، برای ۳۱۵ خانوادهٔ مستحق در ولسوالی دهنه غوری آن ولایت پس از انجام سروی، بتاریخ ۵ جمادی الآخر سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های نقدی توزیع کرد.

در این روند، با حضور مسئولان محلی، برای هر خانواده قسط دوم کمک نقدی به‌طور مجموعی ۴،۳۵۰ افغانی توزیع گردید که مجموع مبلغ تخصیص‌یافته برای این تعداد خانواده‌ها یک میلیون و سه‌صد و هفتاد هزار و دوصد و پنجاه (۱،۳۷۰،۲۵۰) افغانی می‌باشد.

## د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲،۱۹۷ وچکالۍ ځپلو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د هنګري نړیوالو مرستو د محترم دفتر (HIA) ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالي ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۵ نېټه په غورماچ ولسوالۍ کې د وچکالۍ له امله ۲،۱۹۷ زیانمنو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې د سروې پراوونو له ترسره کېدو وروسته هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه، ۵ لیتره غوړي، ۶.۲۵ کیلو دال او نیم کیلو مالګه ووېشل شوه، همدارنګه ۸۰۰ کورنیو ته چې له دوه کلنۍ کم ماشومان یې درلود، ۱.۵ کیلو پلمپي او ۱،۶۶۲ کورنیو ته چې امیندوارې یا شېدې ورکوونکې ښځې یې درلودې ۳ کیلو غني شوي اوړه هم ووېشل شول.

## کار پرکاری اطراف یک پلچک در ولایت غور جریان دارد



به اساس هدایت محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت غور بتاریخ ۵ جمادی الآخر سال ۱۴۴۷ هـ ق کار پُرکاری اطراف یک پلچک شش‌متری را در قریهٔ خارستان فیروزکوه، مرکز ولایت آغاز کرده است.

این پروژه از سوی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث تمویل می‌شود و در آینده نزدیک تکمیل خواهد شد. با انجام کار این پلچک، سهولت لازم در رفت‌وآمد برای باشندگان محل فراهم می‌گردد.

## کار ساخت یک دیوار استنادی در ولسوالی چهارآسیاب ولایت کابل تکمیل و به بهره‌برداری سپرد شد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل، در قریه شاه‌توت ولسوالی چهار آسیاب، کار یک ساخت دیوار استنادی به طول ۹۰ متر، عرض ۱.۵ متر و ارتفاع ۳.۶ متر را به پایان رساند و بتاریخ ۵ جمادی الآخر سال ۱۴۴۷ هـ ق رسماً به بهره‌برداری سپرد.

در مراسم افتتاح این پروژه، محترم الحاج مولوی نجیب‌الله انوری، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل، معاون ولسوال این ولسوالی، ملکان، بزرگان و جوانان حضور داشتند.

این پروژه با هزینهٔ نه‌صد و شش هزار و یکصد و چهل و هشت (۹۰۶,۱۴۸) افغانی، از سوی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث تمویل و توسط شرکت قراردادی تکمیل شده و اکنون یک محراب مسجد جامع، یک مکتب و ۶۰ خانه را از خطر احتمالی سیلاب محافظت خواهد شد.

رئیس محترم آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل از تمامی بخش‌های پروژه بازدید کرد و تأیید نمود که پروژه مطابق نقشه توسط شرکت ساخته شده و بدون هیچ نقصی به پایان رسیده است. ایشان از ساکنان منطقه خواستند که در نگهداری این پروژه با آنها همکاری نمایند.

ساکنان منطقه، به مناسبت تکمیل این پروژه، خوشحالی خود را ابراز کردند و از رهبری امارت اسلامی و اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث قدردانی و تشکر نمودند.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت میدان وردک لوحه‌های هشداردهنده را در ساحات معروض به خطر نصب کرد



بر اساس هدایت محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت میدان وردک بتاریخ ۵ جمادی الآخر سال ۱۴۴۷ هـ ق روند نصب لوحه‌های هشداردهنده را در ساحات معروض به خطر آن ولایت آغاز کرده است.

در نخستین مرحله، این ریاست در ساحهٔ پل سرخ(سور پل) لوحه‌ای را نصب کرد که هدف آن آگاهی‌دهی به مردم در مورد خطر احتمالی غرق شدن هنگام شنا می‌باشد. در فصل گرم، باشندگان محل و کودکان از مناطق مختلف جهت شنا به این ساحه مراجعه می‌کنند و احتمال بروز حوادث افزایش می‌یابد.

مسؤلان ریاست آمادگی مبارزه با حوادث میدان وردک همراه با یک تیم تخنیکی، این لوحه‌ها را در نقاطی جابجا می‌کنند که در آن خطرات احتمالی برای مردم وجود دارد، تا از طریق آگاهی‌دهی عامه میزان تلفات احتمالی به حداقل برسد.

نصب این لوحه‌ها مردم را از موقعیت دقیق ساحات خطرناک باخبر ساخته و آنان را از انجام فعالیت‌های خطرناک در آن نقاط هشدار می‌دهد. این اقدام می‌تواند نقش مهمی در جلوگیری از حوادث احتمالی داشته باشد و زمینهٔ مصوونیت بیشتر باشندگان محل را فراهم سازد.

## د خوست ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له یوې کورنۍ سره چې د پاکستان د هوايي برید له امله یې د کورنۍ غړي له لاسه ورکړي وو، نغدي، خوراکي او غیرخوراکي مرسته وکړه




د خوست ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم مولوي دوست محمد هلال، په داسې حال کې چې د ولایت مقام مرستیال، محترم محبوب شاه قانت شتون درلود، د پاکستان د هوايي برید د پېښې له امله زیانمنې کورنۍ کور ته ولاړ او شهیدانو ته یې په دعا کولو سره دې کورنۍ ته نغدي، خوراکي او غیرخوراکي مرسته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۵ نېټه ووېشله.

دې کورنۍ ته چې کور یې هم په بشپړ ډول ویجاړ شوی و، دوه سوه زره (۲۰۰،۰۰۰) افغانۍ نغدي مرسته، څلور بورۍ ۵۰ کیلویي اوړه، یوه بوری ۵۰ کیلویي بوره، درې باب خیمې، ۱۰ تختې کمپلې او یوه روغتیايي بسته ووېشل شوه.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان کار پاک‌کاری سیلبرهای ولسوالی خرم سارباغ را آغاز نمود




بر اساس هدایت محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث که به تمام ریاست‌های ولایتی این اداره هدایت سپرده بود تا سیلبرهای پر شده را در تمام ولسوالی ها پاک‌کار نمایند، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان، بتاریخ ۶ جمادی الآخر سال ۱۴۴۷ هـ ق کار پاک‌کاری سیلبرهای ولسوالی خرم سارباغ را با استفاده از ماشنیری کمیته ولایتی و بودجه این اداره آغاز کرده است.

این پروژه به طول ۱۲۰۰ متر و عرض ۱۰ متر می‌باشد که با پاک کاری آن از وجود رسوبات، آب در مسیر اصلی خود جریان پیدا کرده و از وقوع سیلاب‌های احتمالی در مسیر این سیلبر جلوگیری می‌شود و جان و مال مردم در امان خواهد شد.

## د پنجشیر ولایت له پېښوسره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۵۰ مستحقو کورنیو خوراکي مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د لارښوونې پر بنسټ او د پنجشیر ولایت له پېښو سره د مبارزې ولایتي کمېسیون د پرېکړې له مخې، د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۶ نېټه په شتل ولسوالۍ کې ۱۵۰ مستحقو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د ولایتي کمېسیون د مسؤلینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته یوه بورۍ اوړه، یوه بورۍ وریجې، پنځه کیلو بوره او نیم کیلو چای ووېشل شو. همدارنګه، په پام کې ده چې په راتلونکو ورځو کې به ۸۵۰ نورو کورنیو ته هم په دې ولایت کې همدا مرستې ووېشل شي.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۰۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې



د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د نسیم الله درمان په نوم د خیر کس په مالي او تخنیکي همکارۍ، د یاد ولایت په دره نور او کوزکونړ ولسوالیو کې د زلزلې له امله ۲۰۰ زیانمنو کورنیو ته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۶ نېټه خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې.
د مرستو په دې ویش کې د مسولینو په شتون کې هرې مستحقې کورنۍ ته ۲ تختې کمپلې، ۵۰ کیلو ګرام اوړه، ۲۰ کیلو وریجې، ۵ لیتره غوړي، ۳ کیلو لوبیا، ۲ کیلو بوره او نیم کیلو چای ووېشل شو.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان برای ۳۱۵ خانواده مستحق کمک نقدی توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه آغاخان برای اسکان (AKAH)، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان با همکاری این مؤسسه، برای ۳۱۵ خانواده مستحق در ولسوالی نهرین پس از انجام سروی، بتاریخ ۶ جمادی الآخر سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های نقدی توزیع کرد.
در این روند، با حضور مسئولان محلی، برای هر خانواده قسط دوم به مبلغ ۴،۳۵۰ افغانی پرداخت شد که در مجموع یک میلیون و سه‌صد و هفتاد هزار و دوصد و پنجاه (۱،۳۷۰،۲۵۰) افغانی برای این تعداد خانواده تخصیص داده شده بود.

## د بدخشان ولایت په یاوان ولسوالۍ کې د یو اوسپنیز کانکریټي حفاظتي دیوال کار بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د ژوند بنسټ د ټولنیزې او اقتصادي پرمختیا موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، چې د پروژې تمویلوونکی یې د کنسرن موسسه ده. د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت په یاوان ولسوالۍ کې د ۳۲ متره په اوږدوالي، ۵.۷ متره لوړوالي او د ۱,۳۰۶,۱۲۵ افغانیو په لګښت د یو اوسپنیز کانکریټي حفاظتي دېوال کار بشپړ کړ او د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۶ نېټه رسماً یې ګټې اخیستنې ته وسپاره.
د دې پروژې په پلي کېدو سره سلګونه جریبه کرنیزه ځمکه، باغونه، عام المنفعه تاسیسات او هستوګنیز کورونه د سیلابونو له احتمالي خطرونو څخه خوندي شول او د سیلاب له خطر څخه د خلکو د خوندیتوب کچه لوړه شوې ده.